بسم الله الرحمن الرحيم

سر یال نمبر: 193

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# باجوړ: له خلکو سره د ټي ټي پي دښمني مخ په ډېریدو ده

# په خود ساخته بمي برید کې دوه تنه بې ګناه ځایي وګړي شهیدان شول

د باجوړ په مېنه کې، د ټي ټي پي ترهګرو بې وزله او محنتي وګړي هغه مهال په چاودېدونکي توکي په نښه کړل کله چې دوی په یوه لارۍ کې د ساختماني توکو رسولو لپاره لواتي ته روان وو۔ دچاودنې له امله موټرچلوونکي شېرولي او دهغه ملګری ګل اعظم شهیدان شول۔





## ټي ټي پي یو ځل بیا ثابته کړه چې دوی د بې ګناه وګړو په نښه کولو سره د خلکو پر ضد تر یوې اندازې پورې تللی شي۔

ځایي خلک له دغو اسلام ضد خوارج څخه پوښتنه کوي چې ایا دوی د باجوړ اوسېدونکي نه دي۔ څوک باید له دوی وپوښتي چې د بې ګناه خلکو وژل جهاد چیرته دی او په اسلام کې چیرته جواز لري۔